**روژه د مومن ډال ده او خلافت د امت ډال دی**

**اې د پاکستان مخلصو او خير غوښتونکو مسلمانانو!**




تر رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته، د اسلام د واکمنۍ په پېړیو کې اسلامي دولت د دښمن پر وړاندې د امت لپاره ډال و. د روژې په میاشت کې، هغه مهال چې اسلامي دولت له پیاوړې دښمن سره مخ شو، نو خپل وسله وال ځواکونه يې سترو برياوو ته د رسېدو په موخه چمتو کړل. د ( ۱۳هـ ق) کال په روژه کې اسلامي دولت د بويب په جګړه کې د فارس لويې امپراتورۍ ته ماته ورکړه، بنسټونه يې و لړزول او د تباهۍ  زېرۍ يې ورکړ. په (۹۲ هـ ق) کال د روژې په میاشت کې د خلافت لمن تر اندلس (هسپانيې) پورې پراخه شوه او همداشان د پېړيو پېړيو حاکمیت لپاره يې د اسلام لمن تر اروپا پورې وغځوله. دغه راز په همدغه کال، محمد بن قاسم د هند نیمه جزیره د اسلام پر مخ فتحه کړه او د پېړيو لپاره هندي مشرکينو د اسلام تر نفوذ لاندې ژوند کاوه. د (۲۲۳ هـ ق) کال د روژې په میاشت کې خلافت اموريه تر خپل قلمرو لاندې راوسته، په داسې حال کې چې دا سیمه د ځواکمنې رومي امپراتورۍ وياړلی ځای و. په (۶۵۸ هـ ق) کال کې د روژې په میاشت کې د عين جالوت په جګړه کې خلافت پر تاتاريانو بريالی شو، سره له دې چې تاتاريانو له يوه کال څخه زيات د اسلامي سيمو لويې برخې اشغال کړې وې؛ خو د امت د بريالیتوب راز په دې کې و، چې امت ډال درلود او روژه د مسلمانو وسله والو ځواکونو لپاره د بريا  او لاسته راوړنې میاشت وه.

د روژې په روانه میاشت (۱۴۳۸ هق) کال کې، له ډال پرته، زموږ وسله وال ځواکونه د يهودي دولت له منګولو څخه د مسجد الاقصی له ازادۍ او د اشغال شوي کشمير مسلمانانو له ژغورولو څخه ډډه کوي؛ چې د هندي مشرکينو له لورې زخميان کيږي، ړندیږي او په پای کې په شهادت رسېږي. خو تر اوسه چارواکي په دې لټه کې دي، چې زموږ ځواکونه د ښکېلاکګر کفر د ساتنې په موخه د هغو مجاهدينو لپاره ولېږي چې د دوی پر وړاندې جګړه کوي. کله چې د امريکا نظامي چارواکي له نوموړو واکمنانو څخه د يو شي غوښتنه کوي، دوی همغسي کوي. که څه هم هغه د امريکا له لوري د افغانستان د اشغال

غوښتنه وه، چې هغوی له هغه ځایه په وار وار زموږ پر قبایلي سیمو، بلوچستان او نورو ښارونو بریدونه وکړل اود هند ځارګري اداري ته یې د افغانستان پر مخ دروازه پرانیسته.
پر دې سربېره د دې پر ځای چې وسله وال ځواکونه زمو د ساتنې لپاره لاس په کار شي، چارواکي په دې لټه کې دي، چې د پرله پسې امتیازونو څخه په ګټې اخیستنې د کفر اشغال پیاوړی کړي. په دغه روژه کې لکه عرب واکمنان چې د «عادي کېدو» تر نامه لاندې د یهودي دولت په مخ کې ټیټیږي، دغه رنګه پاکستاني واکمنان د هندو دولت ته سر ټیټوي. د واشنګټن د بادارانو د خوشحالولو لپاره، پاکستاني واکمنان شپه او ورځ په دې بوخت دي، چې له هند سره فرهنګي، اقتصادي، نظامي او سیاسي جوړجاي ته ورسي، خو د مسلمانانو له اړتیاوو څخه ډډه کوي. په رښتیا سره، د باجوا نواز رژیم زموږ د امنیت لپاره قبر کیني، ترڅو په عملي توګه د اخاند بهارت (ستر هند) لرلید ته د عمل جامه ور واغوندي، کټ مټ د عربو د هغو واکمنانو په څېر چې خپل بنسټونه یې د (ستر اسرایل) په مخ کې اینبي دي.
سره له دې چې پاکستان د ځمکو، سرچینو او وسله والو ځواکونو لرونکی دی او د نړۍ له لویو ځواکونو سره په سیالۍ کې دی، خو اغیزمنتوب یې تر دغه واقیعت کم دی. له اسلامي دولت څخه پرته نني واکمنان زموږ د سرونو د ساتنې په موخه هېڅ ډال نه شي کېدای. دوی زموږ د اندامونو لپاره ولچک دي، د غاړو لپاره مو توري دي او تر دښمن مخکې زموږ د کمزوتیا لامل ګرځېدلي دي.
**اې د پاکستان مسلمانانو!**
روژې ته رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغه ډال سره تړاو ورکړی، چې په فردي توګه د جهنم له اور څخه زموږ د هر یوه ساتنه کوي. په دې اړه فرمایي:
**«الصِيامُ جُنَةٌ مِنَ النَارِ كَجُنَةِ اَحَدِكُم مِنَ القِتَالِ»** (ابن ماجه)
*روژه د اور پر وړاندې د هغه ډال په شان ده، چې د جنګ پر وړاندې ډال وي.*
دې روژې موږ هر یو په فردي توګه مکلف کړي یو، چې د الله سبحانه و تعالی د ثواب، ښښنې او رحمت په لټه کې شو او له غضب څخه یې ځان وژغورو. دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم خلافت ته له ډال سر تړاو ورکړی، په فردي توګه نه، بلکې د یو واحد امت په توګه یې موږ ټولو ته فرمایلي:
**«اِنَمَاالاِمامُ جُنَةٌ يْقاتلُ مِنْ ورائِهِ و يُتَقي بِهِ»** (مسلم)
*په رښتیا امام (خلافت) ډال دی، چې تر شا یې جنګیږئ او په هغه سره ساتل کیږئ.*
په دې روژه کې باید له خپلو ځانونو څخه و پوښتو، آیا موږ د دغه مکلفیت د اداکولو لپاره څه کولای شو؟ موږ د دغه مکلفیت په اړه څه کولای شو، په داسې حال کې چې د هغه په نشت کې نه یوازې د شریعت یو حکم ځنډېدلی؛ بلکې په سلګونو نور حکمونه یې د تعلیق په حالت کې پاتې دي؟ په رښتیا زموږ د دین د پلي کېدو لپاره خلافت یوه اسلامي تګلاره ده، چې د یو دولت په توګه زموږ واکمني، اقتصاد، تعلیم، قضاء، کورنی او بهرنی سیاست د قرآن او سنتو په نظر کې نیولو سره ډاډمن کوي.
**اې د پاکستان مسلمانانو!**
په دې روژه کې، زموږ لپاره یوازې روژه نیول، لمونځ کول او الله ته ژړل د ښښنې لپاره بسنه نه کوي، په داسې حال کې چې موږ له ډال پرته ژوند کوو. پر موږ لازمه ده چې په رښتیني توګه او کلکه اراده سره د امریکا راج ته د پای ټکی کېږدو او د اخاند بهارت د پراختیا مخه ونیسو. دغه روژه موږ ته فرصت راکوي، چې له حزب التحریر سره یوځای د نبوت پر تګلاره د خلافت د دویم ځلي تاسیس په موخه خپل ږغونه اوچت کړو.
که موږ د خلافت د تاسیس لپاره مکلفیت ادا نه کړو، دا به د اوسنیو واکمنانو پر ډېرو ګناهونو زموږ اقرار وي او اوس دا موږ ټولو ته څرګنده ده. په دنیا کې به مو حالت تر دغه هم زیات خراب شي او د اخرت پېټی به مو دروند شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
**«اِنَ الله عزَوَجَلْ لاَ يعَذِبُ العَامَةَ بِعَمَلِ الخَاصَةَ حَتَى يَرَوُ المُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانِيهِمْ وَ هُم قَادَرُوْنَ عَلى اَنْ يُنْكِرُوْهُ فَلَا يُنْكِرُوْهُ فَاِذًا فَعَلُوا ذٰلِکَ عَذَبَ اللهُ الخَاصَةَ وَ العَامَةَ»** (احمد)

*الله به عامو مسلمانانو ته په یو خاص عمل تر هغه جزا ورنه کړي، تر څو چې دوی په خپلو منځونو کې منکر ووینی، د مخنیوي توان یې ولري، خو دا کار و نه کړي. که یې داسې وکړل الله به خاص او عامو ته سزا ورکړي.*

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مخلصو افسرانو!**

په روانه روژه کې د باجوا نواز رژیم د امریکا راج په پیاوړي کولو کې فعاله ونډه لري او د اخاند بهارت لپاره بنسټونه چمتو کوي. په داسې وخت کې د ملکي وګړو لپاره دا بسنه کوي، چې د ظالمانو پر وړاندې د حق ناره پورته کړي. که څه هم دا ستاسو لپاره بسنه نه کوي، ځکه تاسو نظامي چارواکي یاست، لکه د مدینی د انصارو د مشرانو په څېر اوس تاسو مادي ورتیا لرئ، چې ظالمان ونیسئ، رینبې یې له ستې وباسئ او د دوی ټګی او درغلی ته د پای ټکی کېږدئ.

زموږ وسله وال ځواکونه د پیاوړو زمریانو په څېر دی، ډېر سخت تړل شوي دي، خو هر کله چې خپله خپره دښمن ته ښکاره کړي، منډې به وهي. زموږ وسله وال ځواکونه آزاد کړئ او د امت ډال بېرته راستون کړئ. حزب التحریر ته د روښانفکره سیاسي مشر او جلیل القدره عالم «شیخ عطا بن خلیل ابو رشته» تر مشرتابه لاندې د نبوت پر تګلاره د خلافت د ژر تر ژره بیا تاسیس لپاره نصرت (مادي مرسته) ورکړئ. په دغه مبارکه میاشت کې راوړاندې شئ او د مومنانو زخمي زړونه و رغوئ، د روژې میاشت د کفر او کافرانو پر وړاندې د بریا میاشت وګرځوئ.

**(اِنْ يَنْصُرْكُمُ اللهُ فَلَا غَالِبَ لكم وَاِنْ يَخْذُلكُمْ فَمَنْ ذَا لَذِي يَنْصُرْكُمْ مِنْ بَعْدِهِ وَ عَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَلِ المُومِنُونْ)**

(العمران:۱۶۰)

*که الله مو مرستندوی وي، نو هیڅ قوت در باندې برلاسه کېدای نه شي او که هغه مو پریږدي، نو بیا له الله وروسته څوک ستاسو مرسته کولی شي؟ رښتني مومنان دې یوازې پر الله توکل وکړي.*

**حزب التحریر- ولایه پاکستان**

**ژباړه:خبیب**

**۱۴۳۸، د شعبان ۲۲ مه**

**۲۰۱۷، د مې ۱۹ مه**